علامه پوهاند عبدالحی حبیبی
۲۰۱۷/۰٤/۲٦

# په پښتو ادب کي د مېرمني برخه

دريمه برخه

پښتنه مېرمن د پښتنو د ټولني او اجتماعي سازمان شمزۍ وه، د کهاله ترتيب او د کور اداره ټوله په مېرمني اړه لرله. د نارينه وو او زلمو کار زراعت ، مالداري، حرفت، او د وطن دفاع وه. خو د ضرورت پر وخت مېرمني په دغو کارو کښي هم برخه درلوده، په کښت کښي به د مېړو سره اوږه پر اوږه ولاړه وه، د مالدارۍ د محصولاتو او لبنياتو څخه ګټه بيا ددي په لاس وه، او لاسي صنايع ئې روزله او بيا به هم دغه پښتنه مېرمن د وطن د دفاع پر ميدان له مېړو او زلمو سره توره په لاس ولاړه وه. پوهنه او ادب خو هر وخت د امن او سلامتی په غېږ کښي روزل کيږي مګر د پښتنو تاريخي سرنوشت داسي کړکېچن ؤ، چي د دوي پيړۍ، پيړۍ د آزادۍ په جنګ او وطني دفاع کښي تيري سويدي. نو لکه پښتنو چي د پوهني او ادب او آرټ پالني ته وخت او فرصت نه درلود، پښتنه مېرمن هم د زماني ناخوالو او د تاريخ ظالمو څپو کښي هسي سره را نښتي وه چي د لوستني او پوهني وسايل ئي کورټ نه لرله، او ددي کورنی چاپېر له دغو شيانو څخه تش ؤ. خو بيا هم که د پښتو مدون او نامدون ادب ته ځير سو، نو د پښتني مېرمني برخه په ادبي رواياتو کښي مومو ، او داسي ښکاري چي دي مظلومي ډلي، د پښتو ادب په روزنه کښي هم لاس درلود، او کله کله له مېرمنو څخه هم د پښتو ادب پر آسمان روښانه ستوري ځلېدلي دي.

## د پښتو مدون ادب

بې له عوامي ادبه، د پښتو په مدون او کتابی ادب کښي هم مېرمن سمه برخه لري، او موږ ګورو چي د پښتو په نظم او نثر کښي د مېرمني پالونکی او برکتي لاس خپل کار کوي، او خلاقه قريحه ئي ډېر ګلالي او ښکلي بچي پخپله غېږ کښي روزي.
د پښتو د مدون ادب اکثره برخه اوس زموږ له لاسه وتلي او ضايع سوي ده، مګر داسي ښکاري چي مېرمني له پخوا څخه په ادبي حرکاتو کښي لاس لاره او کوم وخت چي محمد هوتک خپله پټه خزانه سره راټولوله نو ده ددغه کتاب يوه برخه د پښتنو مېرمنو شاعرانو لپاره وټاکله او د همدغه مرحوم مؤلف مشکوره سعيه ده چي اوس موږ د پښتو په ادبي تاريخ کښي ځيني فاضلي مېرمني پېژنو.

## زرغونه کاکړ:

د محمد هوتك په روايت زموږ د پښتو ادب په تاريخ کښي د مېرمنو د ادبي آثارو قدامت پنځو سوو کلو ته رسيږي او ډېره پخوانی شاعره چي موږ پېژنو نو زرغونه کاکړه ده او ددې د ژوندانه دوره پسله (۸۵۰ هـ) تخمين کيږي.
دا مېرمن عالمه شاعره او د ښه خط ليکونکي وه، د کندهار په تاريخي پنجوايي کښي اوسېده، د ملا دين محمد کاکړ لور او د

سعدالله خان نورزی ماینه وه، دي مېرمني په ۹۰۳ هـ کال د شېخ سعدی مشهور فارسي بوستان په پښتو منظوم کړ نوکله چي د پښتو ادب د اخلاقي شاعری تاریخ لیکل کیږي، زرغونه کاکړه به په لومړی صف کښي درېږي.

د زرغوني کاکړی نور اشعار او آثار اوس نه دي پاته، خو محمد هوتك ئې له پښتو بوستانه دغه یو حکایت رانقلوي، چي د زرغوني د کلام فصاحت او سلاست ځني ښکاري :

اوس د حضرت سعدی له بوستانه اصل فارسي حکایت وګوریٔ :

شنیدم که وقت سحرګاه عید　　زګرما و آمد بیرون بایزید
یکي طشت خاکسترش بیخبر　　فرو ریختند از سرائی بسر
همي ګفت شولیده دستار و موی　　کف دست شکرانه مالان بروی
که ای نفس! من در خور آتشم　　به خاکستری روی درهم کشم؟
بزرګان نکردند در خود نګاه　　خدا بیني از خویشتن بین مخوا
بزرګي به ناموس و ګفتار نیست　　بلندي به دعوی و پندار نیست
تواضع سر رفعت افرازد　　تکبر به خاك اندر اندازدت

(کلیات سعدی، ص ۲٤۱)

اوس د زرغوني ترجمه وګوریٔ :

چي له شاتو هم خوږه ده　　اورېدلي مـي قصه ده
بایزید چي وُ رویدار　　د اختر په ورځ سهار
په کوڅه کي تېرېدلی　　له حمامه راوتلی
راچپه کړلي ناپامه　　ایرې خاوري چا له بامه
په ایرو په خاورو خړ　　مخ او سر ئې سو ککړ
د خپل مخ په پاکېدو سو　　بایزید په شکر کښنو سو
چي په اور کي سم نسکور　　چي زه وړ یم د بل اور
یا به لړ شکوه کومه　　له ایرو به څه بد ورمه؟
له لویني ئې ځان پرې کړ　　هو! پوهانو ځان ایرې کړ
خدای ته نه سي کړای کتل　　څوك چي ځانته ګوري تل
لو خبره په کار نه ده　　لويي تل په ګفتار نه ده
تکبر به دي تل څوړ کا　　تواضع به دي سر لوړ کا

( پټه خزانه، ص ۱۹۳)

له لويني ئي ځان پرې کړ       هو! پوهانو ځان ايرې کړ

خداى ته نه سي کړاى کتل       څوک چې ځانته ګوري تل

لــو خبـره پـه کـار نـه ده       لــويـي تـل په ګفتار نه ده

تکبـر بـه دي تـل خـوړ کا       تواضع په دي سر لوړ کا

(پټه خزانه، ص ۱۹۳)

د دریمه برخی پای

دوام لری

** * **

لمړی برخه:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Habibi_A.H/a_h_habibi_pa_pachto_ke_de_mermoney_barkha_۰۱.pdf

دوهمه برخه:

http://www.arianafghanistan.com/UploadCenter/Habibi_A.H/a_h_habibi_pa_pachto_ke_de_mermoney_barkha_۰۲.pdf